مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۳/۰۸/۲۶

# نیمه‌ږودې او کیهاني بریا

هیندوستان د سلګونو ادیانو، زرګونو مذهبونو، ژبو او فرهنګونو هېواد دی. تېره ورځ یې توغولي «چاندرایان-۳» د سپوږمۍ پر جنوبي څنډه کېنوله او په نړیوال کچ یې په کیهاني بریاوو کې نوی درشل ورخپل کړ:
ویل کیږي، د دغې بریا په ساینسي بهیر کې لویه ونډه د ښځینه ساینسپوهانو ده:
د هیندوستان د کیهاني پوهنې بنسټګر یو مسلمان ساینسپوه او سیاستوال، دکتور ابوبکر زین العابدین عبدالکلام، د دغه هېواد یولسم ولسمشر و:
د دغې بریا رېښتینې خاوند د هیندوستان ستر ملت دی. هغه ملت، چې په نیمه ږودې پایي، خو خپله لور و زوی ښوونځي و پوهنځي ته لیږي، چې څو ورځې روسته په یوه نړیواله کمپنۍ کې IT منیجره/منیجر شي.
د هیندوستان هیڅ مذهب، هیڅ دین او هیڅ فرهنګ د «پوهنې» مخه نه نیسي، ان هغه باور چې زموږ کلانکاران ورپورې خاندي.
ملت مهم دی او د ملت ذهنیت او شعور د هغوی برخلیک ټاکي.
د داسې بریاوو لپاره نه د حکومتونو ذهنیت مهم دی، نه د مشرانو. د ولس ذهنیت و شعور هم مشران زېږوي او هم حکومتونه مجبوروي.
سلطان‌محمود ویجاړ کړی سومنات بېرته رغېدلی، هماغسې په سروزور کې ږوب دی، خو د سلطان‌محمود هېوادوال په یویشتمه پېړۍ کې وړې تړې دا شاربي، چې نجوني ښوونځي ته ولاړې شي که نه؟
که د هیندوستان ولس ته څوک ووایي، چې نجوني مو ښوونځیو ته نه پرېږدو، نو تاسو فکر وکړئ، چې دا ولس به له هغه کس (کسانو) سره څه وکړي؟
هیندوستان «تکفیر» او «له تکفیر څخه وېره» د تاریخ په ډېران کې خښ کړي دي .
هیندوستان په نړۍ کې د خپلو ګنو ادیانو په ګنون نه، بلکې د پوهې، پوهنې او علمي سیالۍ په زور پېژندل کیږي.
هیندوستان د نړۍ تر ټولو ستره ولسواکي ده.
د هیندوستان دا ټول ارزښتونه دوی ته هیڅا هم سوغات کې ورډالۍ کړي نه دي، دا ارزښتونه ولس راپنځولي، ساتلي او نن یې بر و برکت ته ناست دي.
د لکونو مندرونو، جوماتونو، درمسالونو، کلیساګانو او کنیسو دغه هېواد سلګونه لکه دکتوران، ماستران او لېسانسه ګان لري. هیندیان یوازې په هیندوستان کې نه، بلکې د ګردې نړۍ پر تکنولوژۍ‌پوهنه سلطنت چلوي.
په هیندوستان کې د چا د مذهب، دین، باور او ژبې پوښتنه نه کیږي، دیپلوم، زده کړه، تجربه او پوهنیز نوښت یې کتل کیږي.
د خلکو په اراده راجوړه شوې واکمني جنت ته د خپلو خلکو په بیولو کار نه لري، بلکې غواړي کال په کال د وریو، وزګارو او بې کوره هیندوستانیانو شمېر راکم کړي.
دوی غواړي، پخپله هیندوستان د هیندیانو لپاره په جنت بدل کړي، باور لرم، چې کړلای یې شي، ځکه دا پرېکړه یې ولس کړې ده.

**ویښتیا، روښانتیا او بدلون!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ